مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باش

نجیب‌الله پاڅون
۲۰۲۶/۰۳/۰۴

# ولې پر افغان خاوره تېري ته خوښي؟

## خو پر نورو هېوادونو وېر او ژړا؟

کله چې د نړۍ په کوم ګوټ کې برېد وشي، عام وګړي ووژل شي او حاکمیت یې تر پښو لاندې شي، زموږ د ځینو وطنوالو له خولو د غندنې غږ پورته کېږي، نړۍوال قانون یادوي او د مظلوم او انسانیت ترڅنګ د ودرېدو خبرې کوي؛ خو کله چې همدا معیار بیا د افغانستان تر خاورې راورسېږي، کمزوری شي او یا د چوپتیا سیوری ورباندې خپور شي.

ولې؟
ولې د بل هېواد وینه موږ لړزوي، خو د خپل وطن خاوره چې وځپل شي، تحلیل ورباندې لیکو؟
ولې هلته برید «تېری» دی؛ خو دلته «ستراتیژیک واقعیت»؟
ولې هلته احساسات پارېږي، خو دلته حساب‌کتاب پیل کېږي؟
دا پوښتنې یوازې سیاسي نه دي؛ بلکې دا د وجدان پوښتنې دي.

که معیار مو اخلاق وي، باید یو وي، که معیار مو قانون وي، باید یو وي، که معیار مو انسانیت وي نو باید یو وي . افغانستان د تجربو، یرغلونو او سیاسي لوبو اوږد تاریخ لري؛ خو تر ټولو خطرناک وخت هغه وي چې د بهرني فشار پر وړاندې زموږ داخلي دریځونه سره ووېشل شي، ځکه بهرنی بم دومره خطرناک نه وي لکه داخلي دوه‌ګونی معیار.

په دې وروستیو کې یو ځل بیا د افغانستان پر خاوره د پاکستاني رژیم له لوري په ښکاره تېری او بریدونه وشول، د هېواد حاکمیت تر پښو لاندې شوی، د عامو او بې‌وزله خلکو وینه توی شوې ده. تمه دا وه چې د دې خاورې هر اوسېدونکی، هر سیاستوال، هر فعال او هر مدعي به په یوه غږ دا تېری وغندي. ځکه چې موضوع د نظام، ګوند او سیاسي سلیقې نه ده؛ موضوع د خاورې ده؛ خو بیا هم هغه تریخ واقعیت تکرار شو او یو شمېر هغو ډلو، چې تل یې د ګران وطن پر وړاندې خیانتونه کړي او یواځې ورته د دې وطن څوکۍ او واک ارزښت لري دوی په ښکاره د دې تېریو څخه ملاتړ څرګند کړ او د غلامۍ ټټر یې ورته وواهه.
د دوی اکثریتو یې د بل هېواد پر ضد له هغې جملې پر ایران برید په تودو الفاظو او د مکر په ژړاګانو وغانده.

ولې د افغانستان پر خاوره برید «مشروع» شي، خو د بل هېواد برید «ناورین»؟

په خپرو شویو نظرونو کې داسې دریځونه لیدل کېږي چې د پاکستان بریدونه «ستراتیژیک واقعیت» بولي، یا وایي دا «د خلکو جګړه نه ده». خو همدا کسان چې کله پر بل هېواد برید وشي، په لوړ اواز یې غندي او نړۍوال عدالت ته غږ کوي.

په دې اړه ګڼې څرګندونې د هغو افغان سیاسیونو او مشرانو شته، چې اوس له هېواده بهر د بیا واکمنۍ خوبونه ویني، یوه یې داسې لیکلي:

«شهروندان غیر افغان هیچ دلیل منطقی برای دشمنی با پاکستان ندارند...»

او یا:

«ما غیر افغانان نه تنها اینکه با پاکستان دشمنی نداریم... جنگ افغانیت جنگ ما نیست.»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دا ډول خبرې یوازې سیاسي تحلیل نه دی؛ دا له خپل هویت څخه ځان ایستل دي، که څوک ځان د افغانستان د ملت برخه نه ګڼي، بیا طبعاً د دې خاورې دفاع ورته ارزښت نه لري؛ خو پوښتنه دا ده، که د دې خاورې له امتیازاتو، تابعیت، پاسپورټ، سیاست او اقتصاد څخه ګټه اخلي، نو څنګه یې د حاکمیت پر وړاندې بې‌پروا کېدای شي؟

ملي حاکمیت د کوم قوم شخصي ملکیت نه دی؛ دا د دولت او خاورې حق دی، هر څوک چې ځان د دې جغرافیې اوسېدونکی ګڼي، د دې خاورې د دفاع اخلاقي او حقوقي مسوولیت لري.

پوښتنه ساده ده:

ولې د بل هېواد حاکمیت سپېڅلی دی، خو د افغانستان حاکمیت د سیاسي محاسبې موضوع ګرځي؟

که اصل معیار د غیرنظامیانو ژوند، ملي حاکمیت او نړیوال قانون وي؛ نو دا معیار باید په هر ځای کې یو شان وي، هغه که د ایران، فلسطین، یا هر بل هېواد پر وړاندې برید غندل کېږي، نو د افغانستان پر وړاندې برید هم باید په هماغه کچه وغندل شي.

ځینې هڅه کوي موضوع ته قومي رنګ ورکړي؛ خو ژورې کتنې ښیي، چې اصلي ستونزه قومي نه، بلکې سیاسي ده، په افغانستان کې د تېرو لسیزو ډېری بحرانونه د همدې فرصت‌طلبه سیاست له امله رامنځته شوي .

تاریخ ته که وکتل شي:

۱- د بچه سقاو لنډمهاله واکمنۍ د دولت بنسټونه کمزوري کړل او سیاسي ګډوډي یې پراخه کړه.
۲- د کورنیو جګړو پر مهال، د برهان‌الدین رباني تر مشرۍ لاندې تش په نوم حکومت او د بېلابېلو تنظیمونو رقابتونو کابل او افغانستان ویجاړ او په اور یې وسوځاوه.
۳- د جمهوریت پر مهال، ډېرې سیاسي څېرو د ملي روغې جوړې پر ځای د څوکۍ، معاملې او شخصي امتیاز لپاره یې سیالي کوله.

په دغو ټولو پړاوونو کې یوه ګډه ځانګړنه وه:

کله چې واک ته د رسېدو یا بېرته ستنېدو اړتیا پیښه شوي، ځینو سیاستوالو د پردیو ملاتړ ته سترګې نیولې، همدا ذهنیت دی چې نن هم ځینې کسان د بهرنیو یرغلونو او حتی برید په وړاندې نرم دریځ نیسي او هرکلی یې کوي، ځکه فکر کوي د افغانستان په بدلونونو کې به شخصي سیاسي ګټه ترلاسه کړي.

یو وطن، یوه خاوره او د تاریخ وېش:

افغانستان هغه جغرافیه ده چې تاریخي بهیرونو، استعماري موخو او نړیوالو سیالیو دوه ټوټې کړ او کمزوری یې وساته، انګرېزي استعمار په سیمه کې داسې کرښې او جوړښتونه رامنځته کړل چې یو ملت، د یوې ژبې خلک او د یوه کور خلک یې جلا جلا کړل.
ډیورنډ استعماري کرښه یې له همدو ده؛ چې وروسته پاکستان د همدې میراث پر بنسټ خپله ستراتیژي جوړه کړه، یو کمزوری، بې‌ثباته او محتاج افغانستان.

د نظام مخالفت او د خاورې دفاع:

یوه مهمه کرښه باید روښانه وي، له حاکم نظام سره اختلاف حق دی، سیاسي نقد، مخالفت او بدیل غوښتل مشروع عمل دی؛ خو د بهرني برید او یرغل هرکلی کول یا توجیه کول له سیاسي مخالفته هاخوا په ښکاره د وطن پر وړاندې خیانت ګڼل کېږي.
ملي حاکمیت د واکمني ډلې شخصي ملکیت نه دی؛ دا د ملت ګډ حق دی، که څوک د اوسني نظام مخالف وي، کولای شي خپل دریځ ولري؛ خو کله چې د وطن پر خاوره بم لګېږي، بحث نور د نظام نه، بلکې د خاورې کېږي.

د احساس او انصاف ترمنځ توازن:

د بل هېواد پر وړاندې برید غندل انساني دریځ دی؛ خو هماغه انساني معیار باید د افغانستان لپاره هم عملي شي، که عام وګړي وژل کېږي، که حاکمیت نقضېږي، که بمونه د هېواد په هره برخه او څنډه لګېږي؛ نو دا باید د هر افغان وجدان ولړزوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

هغه څوک چي دلته ژوند کوي، له همدې خاورې ګټه اخلي، دلته سیاست کوي او دلته راتلونکی ويني، بايد په يوه اصل هوکړه ولري، د پردي برید توجيه، که په هر دليل وي، د ملي موقف کمزوري کول دي.

د وطن په دفاع کې معيار يو وي:

افغانستان هغه مهال له دې دورې وځي چي سیاسي رقابت د ملي حاکميت قرباني نه شي؛ شخصي ګټه د خاورې له عزته پورته ونه ګڼل شي؛ بهرني فشار ته د سياسي فرصت په سترګه ونه کتل شي.
که د بل هېواد پر وړاندي برید فاجعه ده؛ نو د افغانستان پر وړاندي هم ناورين دی.
که هلته وينه سره ده، دلته هم سره ده، که هلته حاکميت مقدس دی، دلته هم سپېڅلی دی.
وطن نه د معاملو مېز دی او نه د ستراتېژيو شطرنج.

وطن امانت دی او امانت هغه وخت خوندي پاتي کېږي چي معيار مو يو وي، دریځ مو روښانه وي، او دفاع مو له هر ډول سياسي حساب‌کتابه پورته وي.

هغه ملتونه قوي پاتي کېږي چي د پردي يرغل پر وړاندې اختلافات ځنډوي، نه دا چي اختلافات د پردي يرغل وسيله وګرځوي.

**د يوه سوله‌ييز، پرمختللي، اباد او ودان افغانستان په هيله!**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ